ليکوال : شريف بهاند ۲۷ ، ۲ ، ۲۰۰۸

# د ډالر او يورو تر منځ پټه سيالي

( څلرمه برخه )

## ۴ ـ ډالر ته ريښتنی ګواښ او د هغه دښمنان:

د څانګيزو څيړونکو په اند، که ډالر د تيلو د راکړې ورکړې د ارز دنده له لاسه هم ورکړي، ښايي له روانی پلوه دومره تر اغيز لاندې را نه شي. څکه د ګولډمن زاکس Goldman Sachs د بانک د اومه توکو د شنونکی چفری کوريې Jeffrey Currie د اټکل له مخې، د ورځې څه نا څه ۳ بيليونه ډالره له يوه لاسه بل لاس ته کيږي يا په بله وينا د هغوي څښتن بدليږي. خو د اوپک د سازمان غړي هيوادونه د خپلو تيلو له خرځولو څخه د ورځې څه نا څه ۱، ۵ ميلياره ډالره ترلاسه کوي، چې دا د پورتني شميرني په پرتله ډيره لږ ونډه ده (وګورئ:Arvid, Kaiser, 2008). خو که ډالر د ارزی زيرمي او د ارز پاڼي (اوراق بهادار) دنده د نورو ارزونو په تيره د يورو په ګټه له لاسه ورکړي، نو دا به د هغه له پاره ستره روانی ضربه او ريښتنی ګواښ وبلل شي څکه په نړيواله کچه مرکزي بانکونو په بيليونونو ډالره زيرمه کړي، چې هغه د نړيوالي پيسی (ډالر) بنسټيزه ستن جوړه وي. د بيلا بيلو هيوادونو د ارزي زيرمو ونډه په لاندی جدول کې وګورئ.

د ارزي زيرمو ونډه
شميرني په ميليارد ډالرو، اګست ۲۰۰۷

| ګڼه | هيواد | د ارزي زيرمو ونډه |
|---|---|---|
| ۱ | د چين ولسی جمهوريت | ۱۴۱۱ |
| ۲ | چاپان | ۹۱۶ |
| ۳ | د روسيي فدراسيون | ۴۰۷ |
| ۴ | تايوان | ۲۷۸ |
| ۵ | سويلی کوريا | ۲۵۵ |
| ۶ | د هند جمهوريت | ۲۲۲ |
| ۷ | اروپايی زون | ۲۱۳ |
| ۸ | برازيل | ۱۶۱ |
| ۹ | سينګاپور | ۱۴۸ |
| ۱۰ | هانګ کانګ | ۱۳۸ |

اخځ: Der Spiegel, Nr. 48, 26. 11. 2007, S. 87

اروېد کايزر Arvid Kaiser په دې باب وايي: " ډالر ته به وضعه هغه وخت لا نوره ګواښمنه شي، که په نړيواله کچه ارزي زيرمي په نورو ارزونو واړول شي" (Arvid, Kaiser, 2008).

خو دغه ګواښ لا له پخوا پيل شوی. څکه د ډيرو هيوادونو مرکزي بانکونو د خپلو ارزي زيرمو يوه برخه له ډالرو په يورو تبديلي کړي او لا په دې لټه کې دي، چې خپلې پاتې ارزي زيرمي هم په نورو ارزونو واړوي. د ايران تر څنګ تر ټولو مهم نوماند هيوادونه، چې د ارزي زيرمو د اړولو


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

غوښتونکي او د اروپا د انرژیکي توکو مهم سمبالونکي او د اوپک د سازمان غړي هم نه دي، د روسیي فدراسیون او د ناروی دولت دئ (وګورئ: Arvid, Kaiser, 2008). د فرانسي حکومت د دوي دغه وړاندیز ته په ورین تندی هرکلی او هغه یې د یورو د ځواکمتیا له پاره مهم کام بللی دئ. دغه بهیر له ۱۹۹۹ کال راپدېخوا په ښکاره توګه تر سترګو کېږي، همدا اوس په نړیواله کچه د ډالر ونده په ارزي زیرمو کې له ۷۰ ٪ څخه ۶۵ ٪ ته را ټیټه او په همدې موده کې د یورو ونده په ارزي زیرمو کې له ۱۸ ٪ څخه ۲۵ ٪ ته لوړه شوې ده. لاندی جدول د نړی د ارزي زیرمو جوړښت په ښه توګه روښانه کوي.

د دولتي ارزي زیرمو جوړښت (ترکیب)
شمېرني په سلمه

| ګڼه | ارز | ونډه |
|---|---|---|
| ۱ | ډالر | ۶۴، ۸ |
| ۲ | یورو | ۲۵، ۶ |
| ۳ | سترلینګ پوند | ۴، ۷ |
| ۴ | چاپانی ین | ۲، ۸ |
| ۵ | نور ارزونه | ۲، ۱ |

اخځ: Der Spiegel, Nr. 48, 26. 11. 2007, S. 87

د تیلو د صادرونکو هیوادونو (اوپک) د مشران په وروستي غونډه کې د ویزویلا ولسمشر، هوګو چاویز هم د ډالر کمزورتیا ته په نغوتي سره وویل: "تیل د تولو یرغلونو سرچینه بلل کېږي" او ... " د ډالر د ارزښت د کمیدلو پیښه نه یوازي د هغه رالویدل دي، بلکې دغه پیښه د شمالی امریکا د امپراتوری د ړکیدو په مانا ده" (Spiegel Online, Nr. 1). خو د غونډې په ترڅ کې د لویدیځي نړی د ګټو ساتندوی، د سعودي عربستان پاچا عبدالله هڅه وکړه، د اوپک د سازمان رول سوله ییز وښیي. د نوموړي په اند: " د اوپک سازمان دوه بنسټیزې موخي لري.

- د غړو هیوادونو او د نړیوال اقتصاد ساتنه او ملاتړ او
- د تیلو د بیې د ناثاپي مزاحمت په وړاندي مبارزه"( Spiegel Online, Nr. 2).

د نوموړي وینا د غونډې په ګډون کونکو دومره اغیز و نه کړ. څکه په همدې غونډه کې د متحدو ایالتونو د بل دبنمن دولت، د ایران ولسمشر، احمدی نژاد د متحدو ایالتونو په وړاندې له چاویز څخه لا سخت دریځ غوره او په ملندو سره وویل: " زمونږ د تیلو د ترلاسه کولو په بدل کې، دوي مونږ ته یوه توټه بې ارزښته کاغذ راکوي" (Spiegel Online, Nr. 1).

د اوپک د سازمان د مشرانو په غونډه کې د همدې ستونزې یاني د کمزوری ډالر، په تړاو د ایران مشر وړاندیز وکړ، "به دلیل بی اعتباری دلار، ترکیبي از ارزهاي معتبر مبناي معاملات نفتي قرار گیرد و یا کشور هاي عضو، ارز جدیدي را مبناي معاملات قرار دهند. درخواست شود که بورس هاي نفت، ارز هاي دیگري را مبنا قرار دهند" (خبرګزاری فارس، شماره خبر: ۸۶۰۸۲۷۰۵۸۳ ). د نوموړی په اند، د دی تر څنګ غړي هیوادونه باید " ... ذخایر ارزي خود را به ارز هاي معتبر دیگري تبدیل کنند ..." (خبرګزاری فارس، شماره خبر: ۸۶۰۸۲۷۰۵۸۳ ).

لکه څنګه چې یادونه وشوه، دا کار لا پخوا ځینو هیوادونو لکه روسیي تر سره کړی دئ. دغه هیواد د خپلو بانکي زیرمو، چې ونده یې ۴۰۷ میلیاردو ډالره ده، څه نا څه نیمایی برخه په یورو بدله کړې ده. د چین ولسی جمهوریت، چې د نړی تر تولو زیاتي ارزی زیرمي، ۱، ۴ بیلیونه ډالره)، په واک کې لري، هم په دې فکر کې دئ، هغه په نورو ارزونو بدلي کړي. څکه دغه دولت ته له کلونو راپدېخوا د کمزوری ډالر له امله په سلګونو میلیارده ډالره زیان رسیدلی دئ. سربیره پر دغو هیوادونو، مالیزیا او کویت هم غواړي، خپلې ډالري ارزي زیرمې په نورو ارزونو بدلې کړي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

له پورتني شنني دا پايله ترلاسه کېږي، چي ډالر د بيلا بيلو لاملونو له امله خپل ارزښت له لاسه ورکړی. خو دغه کمزوری ډالر بيا د ځينو له پاره ښيګني رامنځته کړي دي. د ساری په توګه د متحدو ايالتونو ځينو کنسرنو، چي پخوا په نورو هيوادونو کي پانګه اچونه کړي وه، غواړي اوس خپل توليد بيرته په متحدو ايالتونو کي پيل کړي. همدارنګه ډيرو هغو امريکايي شرکتونو، چي د سيالی ځواک يي له لاسه ورکړی و، اوس دوي د ارزان ډالر له برکته برياوی ترلاسه کړي دي. د څارونکو په اند، ښايي دغه ښيګني د متحدو ايالتونو سياست وال يو څه بې لاري کړي. دوي به د خپل ارز کمزورتيا لا نوره هم احساس کړي. ځکه " ډالر يو ساده ارز، نه بلکي د پيسو بنسټيز واحد دئ. هغه خپلي ستونزي له ځانه سره د نړی نورو برخو ته ليږدوي. هغه لا پخوا د اروپا په صنعتي صادراتو خپل اغيز شيندلی دئ" (Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.82 ). د بيلګي په توګه د المان د هوايي چلند او د موټر جوړولو په صنايعو. که څه هم د المان ډيارلس په سلو کي صنعتي توليدات ډالري سيمو ته صادريږي ( Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.84 ). خو سره د هغه هم د اروپايي تولني په بيلا بيلو هيوادونو کي د دغي ستونزي له امله د بيلګي په توګه د ايربس Airbus د الوتکو جوړولو د کنسرني له ۱۶ فابريکو څخه ۷ يي بايد خرڅي شي، چي په دي توګه ۱۰ ۰۰۰ کارځايونه له منځه ځي. د صنايعو د سکتور تر څنګ د ستونزو دغه لړی د اروپايي هيوادونو په بانکونو کي هم دوام لري. له دغو ستونزو سره سره بيا هم د المان د ماليي، پير شتاين بُروک Peer Steinbrück وايي: "زه له ځواکمني يورو سره خورا مينه لرم" (Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.74).

خو د مالي چارو د پوهانو او د شتاين بُروک د سلا کارانو په اند، د يورو د ارزښت لوړيدل ښايي په المان کي په ښکاره توګه پر اقتصادي سيالی، ودي او بوختيا ناوړه اغيز وکړي. د ډالر د ارزښت راټيټدو ته ډير سياستوال او ځانګيز پوهان د شک په سترګه ګوري او وايي، چي د متحدو ايالتونو دولت د نړی له هيوادونو په تيره له چينايانو او همدارنګه له نورو اسيايي هغو څخه ډير پوروړی دئ او اوس غواړی لکه د تيري پيری د شپږمي او اومي لسيزي په څير دغه سياست په لوی لاس پلی کړي، چي د لوړ انفلاسيون له امله د پيسي ارزښت راټيټ او په دې توګه وکړي شي، د خپلو پورونو ونډه راټيټه او له نورو سترو اقتصادي ځواکونو سره په نړيواله کچه د سيالی وړتيا ترلاسه کړي. له همدې امله د فرانسي ولسمشر نيکولای سارکوزی د متحدو ايالتونو پر دا ډول سياست نيوکه کوی او وايي چي:" امريکايي سياستوال د خپل ارز له کمزورتيا څخه په شعوری توګه ګټه ترلاسه کوي، چي د خپلو صنعتي توليداتو د صادرولو چانس زيات او د اروپايانو د سيالی پياوړتيا کمزوری کړي" ( Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.75). همدا لامل دئ، چي د متحدو ايالتونولوری د خپل ارز د ارزښت د راټيټدو په وړاندې هيڅ ډول هاند و هڅه نه کوي. د المان د الايانس Allianz د بيمي د ملی اقتصاد د څانګي د مشر، ميشايل هيزی Michael Heise په اند: "کيدی شي هغه وخت د متحدو ايالتونو په حکومت او د هغه په مرکزی بانک اغيز زيات شي، کله چي د ډالر د جدی بې اعتمادی د کړکيچ په پايله کي، په زياته پيمانه پانګه له دغه هيواد څخه تيښتي ته اړه شي. دغه ګواښ تر اوسه نه تر سترګو کيږي، خو لا تر اوسه" (Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.87). داسی نښي نښاني نه تر سترګو کيږي، چي د متحدو ايالتونو دولت دي د ډالر د کمزورتيا په وړاندې څه تر سره کړي. ان د دغه هيواد ولسمشر، جورج بوش يوی غونډې ته په وينا کي داسی وښوده، چي ډالر له هيڅ ډول ستونزي سره مخامخ نه دئ او زياته يي کړه:" موږ د يوه پياوړي ډالر غوښتونکي يو او دې همدا ډول سياست د پلی کولو په لټه کي هم يو " ( Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.75).

که د ډالر ارزښت په لوی لاس (قصدی) ټيټ ساتل کيږي او که د هغه دغه کمزورتيا د تيرو اقتصادي سياستونو د پايلي له امله دئ، هر څه چي وي، دا تر لمره روښانه حقيقت دئ، چي اوسمهال دغه ستر اقتصادي - پوځي ځواک له ژورو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان دئ او ډالر د پيسو د بنسټيز


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

واحد په توگه دغه ستونزې له ځانه سره د نړۍ نورو برخو ته لیږدوي. په دې تړاو د متحدو ایالتونو د مالیې پخوانی وزیر، جان کونالی John Connally ویلی و: " ډالر زموږ پیسه، خو ستاسو ستونزه ده" (Der Spiegel, Nr., 48, 2007, S.75). نو ځکه اوسنی ستر ځواک هم لکه د تیر ستر ځواک، بریتانیا په څیر، په دې هاند و هڅه کې دئ، د جګړې د صادرولو له لارې خپل اقتصادي له منځه تلل وژغوري. د بریتانیا امپراتوری هم په ۱۸۷۰ کال کې له ژورو اقتصادي ستونزو مخامخ او له هغو څخه، د ژوغورنې په موخه یې د نړۍ په نورو برخو په تیره په سویلی افریقا کې جګړې پیل کړې (Engdahl, F. William, 2003, Nr. 1). له دغه میتود څخه په ګټې اخیستنې سره متحدو ایالتونو هم د خپلې هژمونې، په تیره د اقتصادي برترې د ژغورنې په موخه په عراق او افغانستان کې په جګړو لاس پورې کړ. دغه هیواد غواړي په دې توګه، لکه څنګه چې په مخکنیو ګڼبو کې یادونه وشوه، د خپلې پوځي برترۍ په مرسته، هغه څه ترلاسه کړي، چې د سیاسي او اقتصادي وسایلو له لارې د هغو ترلاسه کول ورته نا شوني برېښي.

اخځ:

1- Engdahl, F. William: Ein neues „American Century“? Der Irak und die heimlichen Euro-Dollar-Krieg, 2003, in:
http://www.engdahl.oilgeopolitics.net/print/Ein%20neues%20Amerikanisches%20Jaj...
2- Engdahl, F. William: Mit der Ölwaffe zur Weltmacht, Der Weg zur neuen Weltordnung, Wiesbaden, 2003
3- Altvater, Elmar: Von der Währungskonkurrenz zum Währungskonflikt: Was passiert, wenn das Erdöl nicht mehr in Dollar, sondern in Euro fakturiert wird? 2003, Österreich
4- Der Spiegel, Nr. 48, 2007
5- VIZ: Handbuch für Internationale Zusammenarbeit, Bd.1 I0002 Übersichten, Gesamtdarstellungen. Allgemeines Strukturdaten der Unterentwicklung, Baden - Baden 1993
6- Die Zeit, Nr.42, 07.10.2004, in:
http://zeus.zeit.de/bilder/2004/42/wirtschaft/auslandsschulden_240gif
7- Guérot, Ulrike: Die Wirtschafts- und Währungsunion, 2004, in:
http://www.weltpolitik.net/Sachgebiete/Europäische%20Union/Politikfelder/Wirtscha...
8- Gabler Wirtschaftslexikon, 13. Auflage, 8 Bänden, 1993,
9- M., Massarrat: Öl und Geostrategie, Der Irak-Krieg war mehr als ein Währungskrieg, 2003, in:
http://www.stayfuned.at/sig/0032/32889.html
10- Steingart, Gabor: Weltkrieg um Wohlstand, in: Der Spiegel 37/ 2006 (S.44-75)
http://www.lexisnexis.com/de/business/delivery/PrintDoc.do?fileSize=100905&jobHandle=184...
11- Vertrag über Europäische Union (Maastricht Vertrag), in:
http://www.bundesregierung.de/Webs/Breg/DE/Homepage/home.html
12- C. Haydt / T. Pflüger, J. Wagner: Globalisierung und Krieg, 2003, Hamburg
13- Kennedy, Paul: Aufstieg und Fall der Grossen Mächte, Frankfurt am Main, 1994
14- http://de.wikipidia.org/wiki/Euro
15- Berliner Zeitung, Nr. 10, 12/13. 01. 2008
16- Berliner Zeitung, Nr. 34, 9/10. 02. 2008,
17- Spiegel Online, Nr. 1, in: http://www.spiegel.de/wirtschaft/0,1518,518187,00.html
18- Spiegel Online, Nr. 2. in: http://www.spiegel.de/wirtschaft/0,1518,518028,00.html
19-Arvid, K, in: Spiegel Online, Nr. 3. in: http://www.spiegel.de/wirtschaft/0,1518,518636,00.html
20- خبر گزاری فارس Fars News Agency, in: http://www.farsnews.com/printable.pfp?nn=8608270583


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de